نړيوال بانك
له بي وسۍ فقر او غربت څخه ژغورلي
نړۍ ته د رسيدلو لپاره هلې ځلې

# خبري خپرونه

اړيکي:
نړيوال بانك په کابل کی: عبدالرووف ضيأ ۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰
بريښنا ليک:Azia@worldbank.org
نړيوال بانک په واشنگټن کی: اريک نورا ۴۷۳۵ ۴۵۸ (۲۰۲)
بريښنا ليک: enora@worldbank.org

## نړيوال بانك د پرمختيايي ننګونو پر لېرې کولو کې د افغانانو ملاتړ ته ژمن دی
## د نړيوال بانك رييس برياوې د ځايي مشرۍ په توان کېويني

**کابل** (**د جولای څلور ويشتمه، ۲۰۰۸**): نړيوال بانك د افغانستان د هغه هڅو چې د بېوزلۍ د منځه وړلو، اقتصادي او ټولنيز پرمختګ د پراختيا، حکومتدارۍ د پياوړتيا اود فساد ورکولو، امنيتي وضعي د ستونزو د شتون سره، ملاتړ ژمنه وکړه. دا خبره رابرټ ب **زوليك** چې د نړيوال بانك د ګروپ مشر دی، په کابل کې وکړه.

**ښاغلي زوليك** په خپل دری ورځني سفر کې نه يواځې د هېواد مشرتابه بلکه د کليو د پرختيائي شوراګانو غړي سره هم کتنې درلودې چې ددوی پرمختيايی هڅې په بېوزله کليوالو سيمو کې د ځايي اداري او کليو په کچه د تشبثاتو د توان ښکارندويې دي.

«*د افغانستان خلکو د نبي راتلونکې لپاره يو رښتني پيوستون پکار دی ترڅو هغه ننګونې له منځه ولاړې شي چې د يو سالم اداري جوړول، فساد سره د مبارزې، او د هېواد وګړو ته د ښو خدمتونو د برابرولو په لاره کې شته دي.*» دا خبره **ښاغلي زوليك** څرګنده کړه او زياته يې کړه چې «*مونږ کولای شو د نړيوالې ټولنې په ډله کې مرسته وکړو خو د پرمختيا د مخ نيوې د دې اساسي لاملونو د منځه وړلو لپاره افغاني مشرتابه مهمه ده.*»

**ښاغلي زوليك** يادونه وکړه چې افغانستان په دې نږدې لنډ وخت کې زياتې لاسته راوړنې درلودلې دي او ددې برياوو څخه بايد زياتې تجربې زده کړل شي. ده د چهارشنبی په ورځ د باميانو په ولايت کې چې د هېواد د بېوزله ولايتونو څخه دی د کليوالو د پروژو څخه ليدنه وکړه. د کليو د محلي شوراګانو سره يې کتنې وکړې چې د اوبو د بريښنا د کوچنيو پروژو څخه يې د بريښنا د توليد لپاره کار اخستی او نورو بيا پريکړه کړې وه ترڅو خپلې بسپنې د ښوونځي جوړولو لپاره راغونډې کړي.

«*هغه څه چې ما د کليوالو خلکو څخه واورېدل په رښتيا چې د ځايي اداري د فوق العاده فعاليت ښکارندوئې کوله.*» دا مطلب **ښاغلي زوليك** ياد کړ او زياته يې کړه چې «*د خلکو پنډ غاليو د نارينه او ښځو په ګډون په ټوليزه او اغېزمنه توګه د خپل پرمختګ په هکله پريکړه کړې ده چې دې کار د افغانستان د حکومتدارۍ د نن ورځې د لويو ننګونو په رفع کولو کې يوه رښتونې تجربه او تمه منځ ته راوړې ده.*»

د کوچنيو پورونو اخستونکو د نړيوال بانك رئيس ته معلومات ورکړل چې څنګه له خپل پورنو څخه د تشبثاتو جوړولو لپاره کار اخلي. د هغوی په منځ کې يوه مېرمن چې د کاليو ګنډلو دوکان يې پرانستی او پنځه نورې مېرمنې يې هم په کار ګمارلې وې او يو بل کس چې د موبايل ټيليفونونو کاروبار يې پيل کړی وو، شامل وو. **ښاغلي زوليك** يادونه وکړه چې «*دا ښيي چې د افغانستان خلك د تشبثاتو جوړولو استعداد لري او کولای شي فوق العاده لاسته راوړنې ولري.*» د هغه وخت راهيسې چې د کوچنيو پورونو د لاس رسي پروګرام پيل شوی دی، ۴۵۰۰۰۰ تنه افغانان يې تر پوښښ لاندې راغلي دي.

**ښاغلي زوليک** يادونه وکړه چې د افغانستان د دولت هغه ګام چې د فساد د مبارزې قانون يې تسويد کړى، د ستاينې وړ دى چې د هغې پر بنسټ د فساد د مبارزې اداره چې د جمهور رييس تر مستقيمې څارنې لاندې واقع ده او اختصاصي څارنوالي او اختصاصي محکمه جوړيږي. ده زياته کړه چې *«دا ډېره اړينه ده چې د فساد د مقابلې لپاره اغيزمن ګامونه واخستل شي او ډاډ تر لاسه شي چې د عامه سکټور په ټولو برخو کې اصلاحات تر سره کيږي که داسې ونه شي نو کېداى شي د دولت اعتبار او مشروعيت د ګواښ سره مخ شي.»* افغانستان د نړيوالې شفافيت سازمان په لست کې په شديده توګه راغورځېدلى دى چې په **۲۰۰۵** کال کې د **۱۵۹** هېوادونه په ډله کې په **۱۱۷**مه درجه کې واقع وو خو په **۲۰۰۷** کال کې د **۱۸۰** هېوادونو په ډله کې په **۱۷۲** مه درجه کې واقع شو.

همداراز **ښاغلي زوليک څرګنده کړه** چې د نړيوال بانک د خوراکي توکو د نړيوال بحران سره د غبرګون پروګرام له لارې به د افغانستان سره مرسته وشي او اته ميليونه ډالره به د **۵۰۰** کوچنيواوبو لګونې پروژو د بيارغونې لپاره برابر شي چې د هېواد د کرهنې د بيا رغونې لپاره مهمې دي.

د سيمه اييزې اوبو لګونې دا تقويتي بسپنې به ددې لامل شي چې د هغه پروژو ټوله شمېره چې د **۲۰۰۲** کال راهيسې د نړيوال بانک له خوا تمويليږي، **۶۰۰۰** ته ورسيږي. سر بېره پردې، نړيوال بانک کابو **سل** ميليونه امريکايي ډالره د منځنيو اوبو لګونې سيستمونو بيا رغونې ته هم ورکړې دي. خو افغانستان به بيا هم د خوراکي توکو د اوسني بحران د مبارزې لپاره د پام وړ مرستې ته اړتيا ولري. **ښاغلي زوليک** وويل چې د نړيوال بانک د مرستې لويه موخه داده چې په منځ مهاله موده کې داسې پانګه اچونه وشي چې د خوراکي توکو د تدريجي خوندیتوب لپاره اړينه ده او نړيوال بانک د افغانستان د نورو پرمختيايي شريکانو او خيريه مؤسسو سره همکاري کوي ترڅو بيږني کمښتونه له منځه ولاړ شي.

**ښاغلي زوليک** په کابل کې د ولسمشر محترم حامد کرزي، يو شمير وزيرانو، ډونرانو او خصوصي سکتور د استازو سره بيلا بيلې کتنې وکړې. د نړيوال بانک رئيس د خپلې مؤسسې پر هغه اوږد مهاله ژمنه بيا ټينګار وکړ چې د افغانستان او د هغه نوي پنځه کلن پلان سره به کيږي چې د بېوزلۍ د کمښت او د اقتصادي او ټولنيز پرمختګ د هڅونې لپاره تېره مياشت په پاريس کې د ډونرانو په کنفرانس کې تر بحث لاندې ونيول شو.

د نړيوال بانک ګروپ په افغانستان کې د **۲۰۰۲** کال اپرېل مياشت کې د خپلو فعاليتونو د بيا پيلولو راهيسې **۴۱** پروژې تمويل کړې او د کابو **۱,۶۹** ميليارده ډالرو ژمنه يې کړې چې له دې ډلې څخه **۱,۲۵** ميليارده ډالره د وړيا مرستو او **۴۳۶,۴** ميليونه ډالره د کريډت ( بې ګټې پورونو) په څېر دي. نړيوال بانک د کليوالو د ژوندانه، بنسټونو د جوړونې، معارف او اساسي روغتيايي خدمتونو ډېرې پروژې حمايت کړې دي. همدارنګه دا بانک د افغانستان بيا رغونې صندوق چې **۲,۵** ميلياردە امريکايي ډالره لري، اداره کوي. نړيوالې مالي مؤسسې چې د نړيوال بانک ګروپ د خصوصي سکټور د ودې څانګه ده د **۲۰۰۲** کال راپدېخوا **۵۰** ميليونه امريکايي ډالره د پانګې د تمويل په څېر برابر کړې او د پانګې اچونې د تضمين څو اړخيزه ادارې **۸۰** ميليونه امريکايي ډالره پانګه اچونه تضمين کړې ده.

په افغانستان کې د نړيوال بانک د چارو په هکله د لازياتو معلوماتو لپاره لاندې انټرنټي پاڼه کتلاى شي:
http://www.worldbank.org.af